# فونیمپوهنه

# Phonemics

Issn 2304-1463

• Dr. Faqir Muhammad Faqir (Lecturer BKUC)
• Dr. Shafi Ullah

Abstract:

Phonetics is related to common language sounds which deals howsounds are made re articulated , transfered and recepted . In other side phonemics deals with the ways which study of particular language sounds and its different patterens of sound or phonems .The Phonemics are specific sounds which play role in language for meaning also phonemis not only identifies but also play role in structure and recognition of sound. not only the sound pattern but also teach us how the sound of all world languages different from each other.

The phonems are specific sounds which play important role in language for meaning . Phonem smallest part of meaningful sound . In this article I explained phonem its speach pattren, its veriation and also discussed the manimal pair and allophon, also indicate a change in meaning .

Key words: phonetics, phonemics, phonemes, allophones, manimal pair.

د دنیا هره ژبه ځان ته د غږونو یو ځانګړې انداز یا نظام لري چې د ژبپوهنې له رویه ورته فونیمکس Phonemics یا فونو لوجي وئیلے شي ـ په اردو کښې ورته فونیمیات اصطلاح پکارولے شي ـ صوتیه شناسي هم ورته وائي ـ

د صوتیات (Phonetics) تعلق د ژبې د عام اوازونو سره وي لکه چې اواز څنګه پېدا کیږي ـ اواز د کومو اندازمونو په وسیله وجود مومي، په کومه طریقه پېدا کیږي او څه نوعیت لري ـ مطلب دا چې په یوه مخصوصه ژبه کښې د استعمالیدونکے حوالې نه بغېر یو عام او تشریحي حېثیت لري ـ د دې په مقابله کښې فونیمکس د یوې ځانګړې یا مخصوصې ژبې غږونو پورې اړه لري یعني د یوې خاصې ژبې د غږونو بحث پکښې کولے شي ـ

• Lecturer, Pakhtunkhwa study center
Bacha Khan University, Charsadda

"صوتیات کے ذریعے ہم خام مواد حاصل کرتے ہیں - اور علم صوتیہ کے ذریعے اس مواد کو قابل استعمال شکل دیتے ہیں - عملی صوتیات کسی زبان کي اوازوں کو تلفظی (Articulatory) سمعیاتی (Acoustic) اور سمعی (Auditory) سطح پر رکھنے اور بیان کرنے کا نام ہے - لیکن اوازوں کی ادائیگی اور سماعت کی خصوصیات ہر فرد کے ساتھ مختلف ہوتی ہے - چنانچہ ایک زبان کے بولنے والی بھی اوازوں کو بالکل یکساں ادا نہیں کرتے - لہذا ایسي تمام اوازوں کو جو کسی زبان میں لسانی اہمیت کے حامل ہوں - ان کی عمومی خصوصیات کی بناء پر علیحدہ کرنا علم صوتیہ سے تعلق رکھتا ہے -"۱

ترجمه :د اواز پوهنې مثال د خامو یا کچه موادو وي او د فونیمکس په ذریعه دغه مواد د استعمال جوګه جوړولے شي - عملي غږ پوهنه په یوه ژبه کښې د اوازونو د تلفظ، سمعیاتي او سمعي بنیادونو تللو او بیانولو نوم دے - خو د اوازونو ادائیګي او اورېدلو خصوصیت د هر چا مختلف وي - ځکه خو د یوې ژبې د ویونکي هم اوازونه په یو رنګ نه وي - داسې اوازونه چې ژبني اهمیت لري د خپلو خاصیتونو په بنیاد پېژندل فونیمکس سره تعلق لري -

او فونیمکس د هغې علم نوم دے چې د یوې ځانګړې ژبې فونیم پرې معلوملے کولے تجزیه شي - او د فونیم درجه بندي پرې هم کیږي -۲په دې کښې صرف فونیم معلومول نه وي د دې نه علاوه د فونیم تعین کول هم وي - او د دې نور قسمونه چې ایلوفون بللے شي هم په نظر کښې ساتل وي - ډیوډ کرسټل لیکي چې فونیمکس یوه مخصوصه ژبه کښې د مخصوصو اوازونو مطالعه کوي - د اوازونو د کردار په لوبولو هم بحث کوي - دا د لفظونو په پېژندګلو کښې مرسته کوي او په معنوي اړخ د لفظونو ځانګړتیا په ګوته کوي - ۳ د دې بحث مطلب دا دے چې د فونیمکس عامو او هر قسمه اوازونو سره تعلق نه وي او نه یې مختلفو ژبو سره کار وي - په دې کښې د مخصوصې ژبې اهم غږونه په نظر کښې نیولے شي -

"که چرې د یوې خاصې ژبې دا اوازونه د هغوي رابطې او خصوصیات چې د هغې ژبې د اوازونو او غږونو سستم منځ ته راولي - تر څېړنې او بحث لاندې اونیولې شي، دغه څېړنې او بحث په فونولوجي یا فونیمکس پورې اړه پېدا کوي"۴

د ژبې خاص اوازونه هغه وي کوم چې د روزمره ژبې حصه وي، هسې خو په سلګونو اوازنه د انسانانو د خولې اوزي ـ خو دغه ټول د معنې او مفهوم د پاره اهم نه وي ـ لکه شپېلې، ټوخې، ایټکې، انتروشې وغېره ـ دغسې د ځناورو اوازونه هم د ژبپوهنې له رویه ژبني خصوصیات نه لري.هره ژبه کښې د ضرورت او د ژبې د مزاج مطابق اهم اوازونه خپلولې شي ـ دغه خاص اوازونه فونیم وي او هم د دې سائنسي مطالعې ته فونیمکس وئیلې شي ـ

"فونیمکس د ژبپوهنې هغه برخه ده چې په هغه کښې د فونیمونو سره بحث کیږي ـ په فونیمکس کښې د فونیمونو او د هغو تجزیه او دست بندي تر څېړنې لاندې نیول کیږي ـ"[۵]

فونیمکس کښې هاغه اوازونو ته پام لرنه کیږي چې کوم یوه ځانګړې ژبه کښې د اهمیت جوګه وي هغه واخېستلې شي او د کوم چې ضرورت نه وي هغه نظر انداز کړے شي ـ بل په دې کښې د فونیم تصور له اهمیت ورکولې شي او هم د دې تجزیه او تشریح کولې شي ـ

په دې اړه پېټر روچ peter Roach لیکي :

"phonology: when we talk about how phoneme's function in language, and relationships among the different phoneme's"[۶]

ترجمه :فونولوجي هغه علم دے چې په هغې کښې د یوې ژبې په فونیم پېژندنه او استعمال خبره کیږي او د مختلفو فونیمونو سره د تعلق بحث لري ـ

فونیمکس د غږونو طریقه pattern په ګوته کوي او دا چې د دنیا د ټولو ژبو اوازونه د یو بل نه څنګه مختلف وي ـ د هرې ژ بې د اوازونو د ادائیګۍ مخصوص انداز وي ـ مختلفو ژبو کښې ځینې اوازونه یو شان هم کېدلې شي خو د ادا کولو طرز بېل بېل وي ـ فونیمکس مونږ ته دا هم ښکاره کوي چې په ژبه کښې ځانګړې غږونه کوم دي او دا چې د دغه غږونو په لفظونو او اوازونو کښې څه کردار وي، بل دا چې د یو لفظ په جوړښت او پېژندګلو کښې څه اهمیت لري د دې بنیادي اساس فونیم دے ـ نو پکار ده چې فونیم وپېژندلې شي ـ

فونیم : Phoneme فونیم د یوې ژبې یا اواز د ټولو نه مختصر غړ وي چې تر دغې نور نه شي تقسیم کېدلے دا د اواز مختصره حصه وي نو په خپل مختصر وجود کښې ځانګړې حېثیت سره څه معنٰي نه لري خو چې بل غړ سره وتړلے شي نو معنٰي پېدا کوي ـ داسې هم وئیلے شو چې فونیم د یو اواز یا غړ بل سره بېلتون ښکاره کوي ـ د معنې بدلون هم څرګندوي ـ په اردو کښې ورته صوتیه وئیلے شي ـ

ډاکټر شوکت سبز واري په دې اړه وائي :

صوتیه کے معني هے صوت سے منسوب اور اس سے متعلق ـ صوتیه بے شبه صوتي اکائي هے ـ جسے مزید اکائیوں میں تقسیم نهیں کیا جا سکتا ـ[۷]

ترجمه :د صوتیه معنا ده صوت سره منسوب او د دې سره تعلق لرونکے ـ صوتیه بې د شکه د غړ وړه حصه ده چې نوره نه شي تقسیم کېدلے ـ

فونیم د غړ مختلفې څانګې یا حصې لري چې ځانله معنا نه لري خو چې غړ کښې شامل شي نو د اهمیت اندازه یې کیږي او معنا څرګندوي یا بدلون پېدا کوي ـ د مثال په توګه کار، تار، دار، یار وغېره ـ په دې لفظونو کښې یو یو غړ داسې دے چې د نورو نه مختلف دے نور یو شان دي او دغه مختلف غړ د معنې بېلتون پېدا کړې دے ـ په دغه څلورو مثالونو کښې ک، ت، د او ي ـ د لفظ معنې له توپیر ورکړے دے او دا فونیم دے ـ دغې هم صوت اوازنو ته مختصرې جوړې Minimal pairs وائي ـ دا فونیم پېژندنه کښې ډېر اهمیت لري ـ دا داسې لفظونه وي چې مختلفې معنې لري او صرف د یو غړ یا فونیم بدلون لري ـ

په دغه ذکر شوؤ لفظونو کښې مونږ وینو چې یو فونیم د بل فونیم ځائے ونیسي نو لفظ او معنا بدله شي ـ دغه ښکاره صوتي حېثیت او خصوصیت په یو ژبه کښې د فونیم ځانګړې مقام په ګوته کوي ـ دا د ژبې بنیادي صوتي واحد دے چې د معنې بېلتون پېدا کوي ـ او نورو غړونو نه

مخالف، اپوټه یا بدل وي ـ په یوه ژبه کښې د اوازونو تعداد که هر څومره وي خو د فونیم تعداد مقرر او محدود وي او د ژبې د نورو اوازونو نه په شمېره کښې کم وي ـ ۸

په نولسمه صدۍ کښې بېن المللي صوتیاتي انجمن IPA (International phonetic association) په دې غرض جوړ کړې شوې وه چې د دنیا د ټولو ژبو اوازونه محفوظ کړي خو دا کار ځکه ممکن نه شو چې په هره ژبه کښې د تلفظ په اعتبار د بې شمېره اوازونو امکان موجود وه .د دغه ټول ممکن نه وو نو ژبپوهانو دا فېصله وکړه چې د غږونو هغه ټول طرزونه، نزاکتونه او قسمونه کوم چې روزمره ژبه کښې اهمیت نه لري ـ هغه نظر انداز کول پکار دي او کوم چې عملي ژوند کښې ارزښت لرونکي (Functional unit) دي هغه اخېستل پکار دي او دغې ته فونیم نوم ورکړې شو۔۹

پوهندوې نور احمد شاکر فونیم هم د اوازونو نا قابل تقسیم صورت نه ګڼي ـ هغه لیکي:

"اواز" فونیم "واحد شې نه دې بلکې اکثر اوازونه د اوازونو مجموعه Sound unit ده یعني څو ډوله اوازونه سره یو ځاې کیږي او بیا یو اواز ځنې جوړېږي چې دغې یو اواز ته فونیم وائي ـ د فونیم هر غړي ته ایلوفون وائي ـ " ۱۰

د پوهندوي نور احمد شاکر خبره سمه نه ده چې د مختلفو ایلوفونونو په یو ځاې کولو فونیم جوړیږي ـ که د ایلوفون خبره کوؤ نو دا د فونیم په مختلفو موقعو کښې د استعمال په مناسبت او د وړاندې وروستو اوازونو نه د متاثر کېدو په وجه د ادائیګۍ سره د غږ مخرج کښې بدلون راولي او توپیر پېدا کوي او دغه توپیر ایلوفون بللې شي ـ او بنیادي توګه یو فونیم مختلفو موقعو کښې بېل بېل تلفظي انداز لري ـ بل دا چې د فونیم بدلون د معنې او لفظ بدلون پېدا کوي خو د ایلوفون مختلفه ادائیګي معنوي او لفظي بدلون نه راولي ـ

عبدالکریم بریالي هم د فونیم دغه تعریف کړې دې :

"فونیم یو واحد شے نه دے بلکې اکثر اوازونه د اوازونو مجموعه ده. څو اوازونو سره یو ځایې شي بیا یو ځینې جوړ شي. چې ودې ته فونیم وائي. د فونیم و هر غړي ته ایلوفون وائي. دا دواړه اوازونه یو ځاے یو فونیم جوړوي." ۱۱

که یو اړخ ته فونیم د ایلوفونونو مجموعه ګڼل سمه نه ده نو بل طرف ته د دواړه اوازونه هم سمه معنٰي نه ورکوي ځکه چې د یو فونیم دوه نه زیات ایلوفونونه هم کېدلے شي. رحیم الهام لیکي هغه غړونه چې ګرد سره یو فونیم جوړوي د هغه فونیم ایلوفونونه ورته وائي. ۱۲دا جمله هم ابهام پېدا کوي چې مختلف ایلوفونونه فونیم جوړوي. ایلوفون اصل کښې د یو غړ یا فونیم په مختلف انداز د وېنا یا ادائیګۍ طرز دے د مثال د پاره پند او توپ، یا پل او کړپ کښې" پ" فونیم دوه قسمه ایلوفون لري. د پند او پل" پ "په ادائیګۍ کښې تنفسي حېثیت لري یعني د غړ دوران کښې هوا په شدت سره راوځي او د توپ کړپ په ادا کولو کښې د" پ "اواز ډېر کم زور سره راوځي. دغسې د" ن "ایلوفونونه انګور او رنګ کښې انفي دي. یعني د پوزې د سوري سره نزدې ادا کیږي په زن کښې ژبه د غاښونو سوکو سره لګي. پینځۀ کښې د" ن" ادائیګي تالو سره کیږي او تالوئي دے. انار کښې معکوس دے یعني د ژبې سوکه بره تاویږي . مطلب دا چې د ټولو شکلونه یې په یو اواز کښې یو رنګ او بل اواز کښې بل رنګ لري. او دې ته ایلوفون وائي. دا نه چې دغه ټول اوازونه یو شي او فونیم جوړ کړي. د یو فونیم بېلو بېلو لفظونو کښې د ایلوفون ادائیګي څرګندیږي . دا نه چې یو لفظ کښې د مختلفو ایلوفونونو نه فونیم جوړ شي. ضروري نه ده چې هر فونیم ایلوفون هم ولري. ډاکټر بشريٰ اکرام خېل کتاب" ژبپوهنه "کښې د انټرنېټ د یوې حوالې په بنیاد لیکي چې ایلفون په یوه مخصوصه ژبه کښې د فونیم بېل یا بدل شکل وي. ۱۳

اے مینول آف انګلش فونیټکس اینډ فونولوجي کښې د دې وضاحت داسې شوې دے.

"when two or more concrete form, or realization of a phoneme are compare, each of these forms is referred to as an allophone, rather than a phone. An allophone can therefore, be defined as one realisation of a phoneme among others." ۱۴

کله چې د فونیم د دوو یا زیاتو شکلونو یا احساساتو موازنه کیږي نو په دې کښې هر یو جوړښت یا شکل ته د فونیم په ځائے ایلوفون وئیلے شي.

د فونیم په ځائے د ایلوفون وئیلو مطلب دا دے چې د هغې متبادل ورته وئیلے شي. د فونیم او ایلوفون پېژندګلو د غږ د وتونځائے نه کیږي. فونیم د ذیلي ایلوفونونو د مجموعي اوازونو نوم نه دے بلکې دغه مختلف ایلوفون په مختلفو لفظونو کښې د استعمال او غږ ویستنې دوران کښې د مختلفو مخارجو نه د ادا کېدلو نوم دے.

حوالې:


- محبوب عالم خان، ڈاکٹر، اردو کا صوتي نظام، اسلام آباد، مقتدره قومي زبان، ۱۹۹۷ء، ص ۲۴
- الهي بخش، اختر اعوان، ڈاکٹر، کشاف اصطلاحات لسانيات، اسلام آباد، مقتدره قومي زبان، ۱۹۹۵ء، ص ۳۶۹
- ڈیوڈ کرسٹل، لسانيات کیا هے، مترجم ڈاکٹر نصیر احمد خان، نئ دهلي، ترقي اردو بيرو، ۱۹۸۸ء، ص ۸۱
- صابر خویشکي، ډاکټر، پښتو غږ پوهنه او ویي پوهنه، جرمني، د افغانستان د ودې کلتوري ټولنه، ۲۰۰۱ء، مخ ۱۰
- شاکر، نور احمد، پوهندوے، ژبنۍ څېړنې، ۱۳۵۰، مخ ۲۷
- Peter roach, English phonetic and phonology, 2nd edition, UK, Cambridge University, press, 1991, p 43
- شوکت سبز واري، ڈاکٹر، اردو لسانيات، کراچي، مکتب تخليق، ۱۹۶۶ء، ص ۷۹

- فتح پوري، فرمان، ڈاکٹر، اردو املا اور قواعد، مسائل و مباحث، اسلام آباد، مقتدره قومي زبان، ۱۹۹۰ء، ص ۸۷
- گیان چند، ڈاکٹر، عام لسانیات، لاهور، بک ٹاک، ۱۹۹۵ء، ص ۱۶۶
- شاکر، نور احمد ژبنۍ څېړنې، ۱۳۵۰، ۳۱
- بریالے، عبدالکریم، د پښتو لیک دود، کوئټه پښتو اکیډیمي، ۲۰۰۰ء، مخ ۱۸۸
- رحیم الهام، د پښتو گرامر طرح، مشموله، وږمه، کابل، د ادبیاتو پوهنځے، ۱۳۴۴، مخ ۵۳
- بشرئ اکرام، ژبپوهنه، پېښور، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۸ء، مخ ۲۸۹

- Paul Skandera, peter, burleigh, A manual of English phonetics and phonology, Augsburg, 2005, p 43